# الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ -أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ- شُعْبَةً، فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ -أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ- شُعْبَةً، فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ». "ايمان څه د پاسه اويا څانګې، يا څه د پاسه شپېته څانګې لري، چې تر ټولو غوره يې د: (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ويیل او تر ټولو لاندې يې له لارې څخه د ضرري شيانو لرې کول دي، او حيا د ايمان يوه څانګه ده».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې ايمان ډېرې څانګې او صفتونه لري چې کړنې، باورونه او ويناوې په بر کې نيسي. او دا چې د ايمان تر ټولو لوړ او غوره خصلت د: «لا إله إلا الله» وينا ده، يعنې دا چې " له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته"، د دې وينا پر معنا پوهېدل او د هغې مطابق عمل کول او دا چې الله واحد او يوازينی د عبادت مستحق ذات دی چې له هغه پرته بل څوک د عبادت مستحق نشته. او دا چې د ايمان ترټولو لږ عمل د خلکو له لارې څخه د هر ضرري څيز لرې کول دي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چې حياء د ايمان له خويونو څخه يو خوی دی او دا هغه خوی دی چې ښو کارونو ته هڅول او له ناوړه کارونو څخه ډډه کولو ته انسان اړباسي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6468

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee